ابراهیم نعیمی ۲۰۱۶/۰۳/۸

# د مارچ اتمه د ښځو د پیوستون نړیواله ورځ

که ددی ورځی د تاریخچی څخه تیرشم نو ویلای شم چی یو وخت دا ورځ په سوسیالیستی او لویدیز وهیوادو نوکی په بیلا بیل ډول نمانځل کیده.

که څه هم ماپخوانی شوروی اتحاداونوروسوسیالیستی هیوادونوته سفرنه دی کړی ولی ددوستانودمعلوماتوله مخی په همدغه ورځ دښځولپاره ځانګړی جشنونه او د خوښیو مجلسونه جوړیده. په دغو خوښیوکی نارینووهم په پراخه پیمانه برخه اخیسته. په دی هیوادونو کی په همدغه ورځ ښځو ته ډیر سوغاتونه د نارینوو له لوری ورکول کیده. که ووایو د ښځو موضوع ته په دغه ځانګړی ورځ ځانګړی پاملرنه کیده. په وروستیو شلو کلونوکی چی دلویدیزوهیوادونو په یوه هیوادکی استوګنه کوم، کوم ځانګړی پروګرام می په دی ورځ کی ترسترګوشوی نه دی. ډیرځل می ښځوته په همدی ورځ مبارکی ویلی ده، ولی په ځواب کی راته ویلی دی چی زما هیڅ په حافظه کی نه وه چی نن داسی یوه ورځ ده. تلویزیونی شبکی یوازی په څو لنډومرکوبسنه کوی. سره ددی چی دکارګرانودنړیوال پیستون په ورځ (دمی د میاشتی په لومړی ورځ) لار یونونه او د ورځی په پای کی د خوښیو په خاطرواړه، زاړه، پیغلی او میرمنی په شنوپارکونوکی راټولیږی، ژوندی موزیک وی اودکوم ګوندمشروېناهم کوی. په ټولولویوښارونوکی دمی لومړی نیټه دجشن په ډول د کارګرانو او ځوانانو لخوا په خوښی سره نمانځل کیږی. په دغه ورځ ځوانان د سیاست سره ډیره علاقه نه ښیی یوازی په نڅاه، د موزیک په اوریدواونورو خوښیوسره همدغه ورځ تیره وی.

زموږ په ګران هیواد افغانستان کی د ښځو نړیواله ورځ په تشریفاتی ډول د چارواکو لخوا په غونډواویا د ځینو ښځینه زندانیانوپه خوشی کولوسره نمانځل کیږی. په اوسنی وخت کی دنوی تکنالوجی په برکت دهیوادډیرلیکوالان بریښنایی ویبپانو ته دښځود درناوی اوستونزو په بیان رنګارنګ لیکنی دخپریدلولپاره لیږی. داهم غنیمت دی چی دهیوادروښان اندی د خپله زړه براس په خوږو او ګټورولیکنوباسی. اوس به دی پوښتنی ته ځواب ووایم چی ایازموږد هیوادغمجنی پیغلی اومیرمنی په کومه کچه ددی تاریخی ورځی په ارزښت پوه دی اوداهم بایدځرګنده کړم چی لږترلږه زموږهغه ښځی چی لوړی زده کړی لری اواوس دهیوادپه لیری سیمو کی استوګنه کوی دروانو ناخوالوپه وجه ددی امکان لری چی دښځودحقونوپه اړوندپه دومره لوړه کچه سوچ وکړی اوکه هره ورځ دخپلوعزیزانوقبرونوته په ژړااو فریادشپی سباکوی؟

زموږدهیوادتقریباً ټولی ښځی په یوه یابله سیمه کی میرونه، بچی، پیغلی لونړی، خویندی اومیندی ترمړستونوپوری بدرګه کوی. دی مظلوموښځوته دا توپیر نشته چی دډیموکراسی راوستونکی ددوی عزیزان مړستونوته لیږی اوکه د



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ډیموکراسی مخالفین یانی په مروجه اصطلاح القاعده اویاطالبان داکړنه کوی. ځکه په وروسته څه دپاسه دیر شوکلونوکی زموږمیرمنو، خویندواولونوهره ورځ دځپلوعزیزانوپرقبرونوباندی ژړلی اواوښکی توی کړی دی.

زماپه انددافغانستان اوسنی واکدارانوته په کارده چی دمارچ اتمی نیتی دنمانځلو ځخه ډه ډه وکړی په بدل کی هغه بهرنی فوځیان چی دوی یی دوستان ګڼی، اړ باسی چی دماشومانواو بی ګناه غیری فوځی ښځواونارینوودوژنی ځخه ډه ډه وکړی. زموږپه هیوادکی تراوسه دا زمینه برابره نه ده چی موږدښځودنړیوال پیوستون ورځ په خوښیوونمانځو.

زماوړاندیزدښځودنړیوالی ورځی په تراوپه افغانستان کی حکومتی واکدارانوته په لاندی ډول دی:

- په دغه ورځ دی هغه لوړچاراواکی چی دځپل واک ځخه په ناوړه ګټه اخیستو سره پرماشومونجونوجنسی تیری کوی، دهغوبی وزلوښځواوښکوپاکولوپه خاطر دغه ډول وحشی انسانانوته سخته سزا اعلان کړی.
- ټولوهغوغمجنوکورنیوته چی دغه ناوړه کړنه ورسره شوی ده په ځرګندډول مالی اومعنوی مرستی ورسره وشی.
- دافغانستان داوسنیواوبشری قوانینوپربنسټ ټولوهغه واکدارانوچی په جبرد ماشومو نجونوسره دځپل ناروا هوسونو دپوره کولولپاره ودونه کړی دی په زندان کیدوسره مجازات کړی.
- هغه ځوانی نجونی چی یوازی په دی ګناه چی دځپل شرعی میره سره دکورنه تښتیدلی دی. دانجونی ماځپله دکابل په ښځینه زندان کی ولیدی، ددغه ورځی په ویاړدزندان ځخه ازادی شی.
- هغه مجرمین چی دځپل واک په زمانه کی دښځوتیان پریکوله اویابه یی لځی لیری په دهمزنګ کی دترافیکودریاست مخی ته ځوندی کړی وی اونوررته جنایات یی دافغانی باعزته ښځوپه وړاندی کړیدی. لږترلږه یویادوه دغه ډول مجرمین دسرکال دښځودنړیوال پیوستون په ورځ په سزاورسوی.
- دځوروځوپه جریان کی چی ښځواوماشومانودرندوبمباریوپه جریان کی ژوندد لاسه ورکړی دی، دسیندپه شان ددالرونوځخه چی لویه برخه یی واکداران جیبونوته اچوی دیوی ورځی لپاره دی دځپلوجیبنوځولی بندی په بدل کی دی یوه اندازه دغه ډالرونه ددغوبی وزلوشهیدانوکورنیوته ورکړی.
- ددی ورځی په ویاړدلویدیزوهیوادونودفوځیانوځخه غواړم چی ددغی ورځی په ویاړدرندو بمباریوځخه دهمیش لپاره ډه ډه وکړی که په رښتیاپه افغانستان کی دیموکراسی پیاده کول غواړی اودښځورښتیانی حقوقوورکولوته ژمن وی.

غواړم بیالویدیزوهیوادونوته په دی اړوندپام واړوم: ځوورځی مخکی می په یوه معتبره ډنمارکی ورځپانه Politiken,d ۲۰۱۱/۰۲/۲۷ کی دمارچ داتمی نیتی په اړوندیوه لیکنه ولوسته چی لنډیزیی وړاندی کوم : « دبرابروحقونودځارنی وزیره Lykke Friis په ډنمارک کی وایی چی نوردښځود پیوستون نړیواله ورځ چی ددوی دمبارزی ورځ هم ګڼل کیږی، یوازی دښځوله لوری یی نمانځنه ونشی. بایدنارینه هم ددغی موځی دبریالیتوب لپاره راوبلل شی. داورځ دنراوښځود برابرو حقوقودلاسته راوړنی ګډه ورځ وګڼل شی. په دغه تړاو نوموړی غواړی دنارینوویوکمیټه وټاکی چی ددواړوجنسونودبرابروحقوقوپه اړوند خبری اوپریکړی وشی. ځه دپاسه سل کاله کیږی چی موږپه ډنمارک کی دښځو نړیواله ورځ یوازی دښځودحقوقودراژوندی کولوپه امیدنمانځو. اړینه ده چی په دغه بحث کی نارینه هم شریک شی اوپه ټول ډول دواړو جنسونوټولنیزی اوجنسی غوښتنی، عمراونوراړوند مسایل وځیړل شی. تراوسه یوازی ښځو په دغه بحثونوکی ګډون کاوه. دابحثونه بایدډټولی ټولنی لپاره وی. کله چی نارینه په ځپل منځ کی بحث وکړی بایداړاپه ګوته کړی چی نارینه کوموامکاناتوته لاس رسی نلری کوم چی ښځی یی

لری. همدااوس دکوچنی دزیږیدنی پرمهال درخصتی موضوع مهمه ده چی ځنی نارینووهم په ورستیوکلونوکی ددغه ډول رخصتیوڅخه ګټه اخیستی ده. درخصتی دغه موده بایدپه ښه ډول دنارینوواوښځوترمنځ وویشل شی. یوه موده میره هم د کوچنی د روزنی لپاره په کورکی وی، ترڅومیرمن یی په خپله دنده پیل وکړی.»
پورته څوټکی می ددی لپاره ولیکل چی په لویدیزوهیوادونوکی اندیښنه داده چی کیدای شی دنارینه حقوق دښځوله لوری ترپښولاندی شوی وی. که څه هم زموږد هیوادونوسیاستوال دلویدیزی نړی دموکراسی بی بندوباری ګڼی چی زه نه غواړم زموږدسیاستوالو پرنظریاتو بحث وکړم.
اصلی خبره زموږ د افغانی ښځو د کړاونو او ستونزو ډک ژوند دی چی روانی جګړی نور هم د ښځو ژوند دکړ او نواوغمونوډک کړی دی. په دی هیله به لیکنه پای ته ورسوم چی افغانی میرمنی، پیغلی، خویندی اومیندی دافغانی ځانګړی کلتورپه رعایت سره دعزت نه ډک ژوندوکړی اودخپل افغانی کلتوردمثبتواړخونوپه نظر کی نیولوسره دنارینووسره اوږه پراوږه په هیوادکی سوله راولی اودنړی دتمدن دکاروان سره داصیلوافغانوښځوپه ډول ورګډی شی.
سرلوړی دی افغانی ښځی
په درناوی

پای